مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر

۲۰۲۳/۰۲/۱۹

# د افغانستان جمهوریت د سقوط عوامل

## د پاکستان رول

## (پنځمه برخه)

**د امریکا ستراتیژي د افغاستان او پاکستان پر وړاندې**

لکه وړاندې چې یادونه وشوه، وروسته له هغې چې په افغانستان کې د طالبانو حکومت له منځ ولاړ نو ډېر شمېر د القاعدې بهرني غړي له کربښې ها خوا قبایلي سیمو وزیرستان، سوات او نورو ځایونو ته واوښتل او پاتې نور یې پاکستانیو پوځیانو ونیول او پر امریکایانو یې وپلورل، یو شمېر مهم مشران یې تر خپل نظارت لاندې وساتل، هغه وو چې د القاعدې غړو په پاکستان کې بریدونه پیل کړل چې له هغو څخه پر جنرال مشرف باندې بریدونه د یادولو دي.

جنرال مشرف هغه مهال د پاکستان یو کودتاچي ولسمشر او د پوځ اعلَی سر قوماندان ؤ، پر جنرال مشرف باندې لومړی برید، (د ده په وینا) د القاعدې لخوا په اسلام آباد کې د هغه له کور سره نږدې د ۲۰۰۳ز، کال د دسامبر پر ۱۴مه نېټه ترسره شو چې جنرال مشرف روغ رمټ په تېښته بریالی شو.

دا چې د پاکستان پوځ د امریکایانو د تېر ایستلو په موخه له هر ډول چل ول څخه کار اخیست، پر جنرال مشرف د لومړي برید پر مهال موږ فکر کاوه چې دا برید په خپله د مشرف لخوا طرحه شوی دی تر څو له دې لارې وکړای شي امریکایان وغولوي او ځان د ترهګرو دښمن ښکاره کړي او په دې ترتیب لا ډېرې پیسې ترلاسه کړي خو په دې منځ د مشرف پر ګاډي لس ورځې وروسته د دسامبر پر ۲۵مه نېټه دوه نور پرله پسې د موټر بم بریدونه وشول چې له دغو وروستیو بریدونو هم روغ رمټ ووت خو د جنرال مشرف په خبره، په دې نړۍ یې جهنم پرې ولید.

که له یوې خوا جنرال مشرف او پاکستانیو پوځیانو د القاعدې غړو د پلورلو له امله د ډالرو خوند لیدلی ؤ، له بلې خوا پر جنرال مشرف بریدونو پاکستاني چارواکي اړ کړل، په هغو پښتون مېشتو سیمو کې د القاعدې د غړو او ځایي طالبانو د نیولو په موخه عملیات پیل کړي تر څو د دغو عملیاتو په بدل کې له امریکایانو نور ډالر ترلاسه کړي، پاکستاني پوځ په سوات او وزیرستان کې ناکام  او زیان اړوونکې عملیات پیل کړل چې له امله یې ډېر شمېر پوځیان ووژل شول او ډېر پښتانه پوځیان تحریک طالبان پاکستان (ټي، ټي، پي) ته ورتسلیم شول چې بیا پرېښودل شول.

کله چې پاکستاني پوځ خپله کمزوري ولیده نو «په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۶ ز، کلونو کې د پاکستان حکومت د یوې معاملې له مخې خپل ځواکونه له ځینو قبایلي سیمو وایستل او ځایي خلکو ته یې وویل چې په خپلو کې سره جوړ شئ. دغې معاملې په افغانستان کې د مېشتو بهرنیو ځواکونو اندېښنه وپاروله. د ۲۰۰۶ز، کال په اکتوبر کې د ناټو امریکایي قوماندان جنرال جیمز جونز د پاکستان پر دغه اقدام څرګندونې وکړې ویې ویل:«لومړنۍ نښې نښانې څرګندوي چې د پولې په هغې غاړه کې له شویو تړونونو وروسته د سرحد په شاوخوا کې د اورپکو فعالیتونه او خوځښتونه ډېر شوي دي.» (ډیوېډ لاېن: دوه پېړۍ په افغانستان کې د بهرنیانو مداخله. ژباړن: محمد جعفر هاند. ۲۹۵مخ)

امریکایانو په افغانستان کې په شلو کلونو کې د خپل حماقت له امله د خپلو دوستانو او دښمنانو تر منځ توپیر ونه کړای شو، دوی تر پایه نه ځان، نه افغانستان او نه هم پاکستان وپېژاند، په تېره بیا د امریکا پالیسي جوړوونکي او د (سي، ای، اې) هغه کارکوونکي چې په سیمه کې مېشت وو، هوښیار او زیرک خلک نه وو، دوی تر دې پورې نااهله او بې تدبیره کسان وو چې دوی ونه شول کولی د بېلابېلو لارو په پاکستان کې د ننه له پاکستاني طالبانو، بلوڅانو، په سېند کې د ایم، کیو، ایم او نورو پاکستان مخالفو ډلو څخه په ښه توګه ګټه پورته کړي، تر څو له دې لارې وکړای شي پاکستان اړ کړي په افغانستان کې د دوی د ګټو پروړاندې کړنې ترسره نه کړي چې په پایله کې که نور هېڅ نه وای نو امریکایي ځواکونه به له افغانستان څخه په عزت سره وتلي وای او له دغې تاریخي شرموونکي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ماتي سره به نه وو مخ شوي. نه یوازې دا چې امریکایانو پر پاکستان فشار نه راوستلو، لکه اوباما او نورو لوړ پوړو چارواکو چې ویلي وو:**«موږ نه غواړو پاکستان بې ثباته کړو.»** بلکې د پاکستان پر ضد د افغان حکومت د ورته کړنو په مخ کې هم خنډ وو چې یوه بېلګه یې د افغان امنیتي ځواکونو څخه د امریکا ځانګړو ځواکونو د (T. T. P) مرستیال، لطیف الله مسید او درو تنو ملګرو نیول او بیا پاکستان ته ورتسلیمول وو.
هغه مهال چې لطیف الله مسید امریکایانو د لوګر په ولایت کې د افغانستان د امنیتي ځواکونو له ګاډي په زور وتښتولو، ولسمشر کرزی یې سخت راوپاراوه چې دا پېښه ډېره سخته ورته تمامه شوه، کرزی په دې پوه شو چې امریکایان د افغانستان خواخوږي او دوستان نه شي جوړیدلی، کرزی تر دې پورې پر امریکایانو بې باوره شو چې که امریکایانو وکړای شي نو د افغانستان خاوره به هم پاکستان ته وسپاري، هغه وو چې د افغانستان او امریکا تر منځ د ستراتیژیک تړون له لاس لیک کولو وړاندې کرزي له جان کیري وپوښتل:«تاسو افغاستان ته دا ضمانت ورکولی شی چې زموږ یوه برخه خاوره پاکستان یا طالبانو ته ورتسلیم نه کړی؟»
د کرزي موخه دا وه چې د لطیف الله مسید تښتول د دې مانا لري چې امریکا د پاکستان سره مټ پر مټ د افغانستان پر خلاف ولاړه ده او هغه چې وایی:

**چې د دوست سره دې دوست دی هغه دوست دی**
**چې د دوست سره دښمن هغه دښمن دی**
(خوشال بابا)

کرزي جان کیري ته وویل:«موږ د پاکستانیو طالبانو یو مشر له افغانستان سره د مرستې په موخه چمتو کړی ؤ، ستاسو ځواکونو هغه د افغانستان له ځواکونو څخه وتښتولو، ما د افغانستان د ولسمشر په توګه له تاسو وغوښتل چې هغه افغانانو ته بیرته ورکړي خو تاسو له دې کاره انکار وکړ، تاسو باید زموږ حاکمیت ته درناوی وکړئ.»
د ولسمشر کرزي د پرله پسې غوښتنو او ټینګار په ځواب کې په افغانستان کې د هغه مهال امریکایي قوماندان جنرال (جوزف ډانفورډ) وویل:**«د دغه کس لاسونه د امریکایانو پر وینو لړلي دي، هغه تاسو ته نه شو تسلیمولی.»**
کیدای شي د جنرال ډانفورډ موخه د هغو امریکایانو وژل وي چې په خوست کې د (سي، ای، اې) پر پنډغالي یو فلسطیني ډاکټر (همام خلیل البلوي) په ۲۰۰۹ز، کال کې وژونکی برید کړی ؤ، په برید کې یو اردنی څارګر، د (سي، ای، اې) یوه مشره او ۶ تنه کارکوونکي وژل شوي وو او ۶ تنه نور یې ټپیان کړي وو، نوموړي عرب بریدګر، وړاندې له برید څخه په یوه ویډیو کې ویلي وو:«د (ټي، ټي، پي) مشر بیت الله مسید غچ به له امریکایانو اخلي... .»
د (ټي، ټي، پي) مشر بیت الله مسید د پاکستان په همکاری د امریکا د (C. I. A) سازمان د بې پیلوټه الوتکې په بمباریو کې وژل شوی ؤ، امریکا د نوموړي پر وژلو د پنځو لکو ډالرو انعام اېښی ؤ. (۱۵/۵/ ۱۳۸۸ ل. ل)
که امریکایان په رښتیا د افغانستان دوستان وای، دوی نه باید له افغان امنیتي ځواکونو څخه لطیف الله مسید تښتولی وای، که بیا هم دوی نوموړی خپل دښمن بللی نو هېڅ کله یې باید پاکستان ته نه وای سپارلی، امریکایانو په دې ناوړه عمل له افغانانو سره خپله دښمني بیا ځلې ثابته کړه چې په راتلونکي کې باید په هېڅ حالت کې باور پرې ونه شي.
سربېره پر دې امریکایان د دې پر ځای چې د افغان طالبانو نیول شوي مشران افغان حکومت ته ورسپارلي وای، هغوی یې هم پاکستان ته ورسپارل چې یوه بېلګه یې د ملا برادر نیول وو چې وروسته له نیولو یې پاکستان ته ورتسلیم کړ. بل لوري ته پاکستان هم د طالبانو لوړ پوړي چارواکي امریکایانو ته ورتسلیمول چې په پاکستان کې د طالبانو د پخواني سفیر ملا عبدالسلام ضعیف نیول او بیا امریکایانو ته ورتسلیمول یې ښه مثال دی.
د لطیف الله مسید د پېښې په اړه، رنګین داد فر سپنتا چې هغه مهال د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر ؤ داسې لیکي:«دا کس لطیف الله مسید ؤ چې د پاکستانیو طالبانو د پخواني مشر [حکیم الله مسید] خوریې ؤ، هغه د افغانستان د ملي امنیت له خوا د سولې د ټینګولو په موخه ملګری کړای شوی ؤ، هغه څو ځلې د افغانستان د ملي امنیت له مسؤلانو سره لیده کاته کړي وو چې په دغو خبرو کې امریکایانو هم ګډون درلود چې د دغو اړیکو مدیریت د افغانستان د ملي امنیت په لاس کې ؤ، امریکایانو د بل ځلي د لیدلو د نېټې مالومات ترلاسه کړي وو، دا په داسې حال کې وو چې هغه د ملي امینت له کارکوونکو سره د کابل پر لور روان ؤ چې په لوګر کې د امریکایي ځواکونو لخوا ونیول شو، سره له دې چې افغان لوړ پوړو چارواکو د ولسمشر کرزي په ګډون له امریکایانو پرله پسې غوښتنې کولې خو هغه یې افغانانو ته ورنه کړ.» (سیاست افغانستان، روایت از درون. ۵۴۲)
د هغه مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یوې ویاندې (ماري هرف) وویل چې مسید د طالبانو له لوړپوړو مشرانو څخه دی، دغې ډلې د نیویارک په ټایم میدان کې په کال ۲۰۱۰ز، کې ناکام برید کړی ؤ او په پاکستان کې پر امریکایي ډیپلماټانو برید او د ملکي خلکو په وژلو یې تورن کړ. (https://www.khabaronline.ir/news
دا تورونه په داسې حال کې وو چې په پاکستان کې ډېری بریدونه پر امریکایانو باندې د (آی، اېس، آی) له خوا د ترهګرو باندونو په واسطه ترسره کیدل او پړه یې پر (ټي، ټي، پي) وراچول کیدله، تر څو له دې لارې وکړای شي امریکایي ځواکونه د ټي، ټي، پي پر وړاندې استعمال کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دغه ناوړه او زړه بوږنوونکي پېښه ښاغلي نذير احمد سهار له هغې پېښې سره پرتله کړې چې په تاريخ کې د (لوګر د حادثې) په نوم مشهوره ده چې په شلمه پېړۍ کې په نوموړې سيمه کې رامنځ ته شوې وه، هغه مهال په کابل کې د کرزي د حکومت او امريکايانو پر ځای، د ظاهر شاه، انګرېز پلوی، تر ډېره د انګرېزانو لاسپوڅی حکومت واکمن ؤ او له ډيورنډ کرښې ها خوا د پاکستان پر ځای د انګرېزانو استعماري واکمني ټينګه وه، په وزيرستان کې د (ټي، ټي، پي) ځای د لوی افغانستان اتل حاجي ميرزاعلي خان (اپيی فقير) نيولی ؤ، ښاغلی سهار ليکي:«د ۲۰۱۳ز، کال د اکتوبر پر پنځمه په لوګر ولايت کې عبداللطيف [لطيف الله] مسيد او د هغه ملګرو ته هغه څه ورپېښ شول چې په ۱۹۴۱ز، کال کې دوو جرمنيانو ته ورپېښ شوي وو. پر شوروي د جرمني له بريد سره هم مهاله، د جرمني د څارګرۍ ادارې (ابوير) د ۱۱مې ورانکارۍ ډلې مشر د ۱۹۴۱ز، کال د جون پر ۲۴مه په کابل کې جرمني سفارت ته امر وکړ چې په وزيرستان کې اوربلوونکي عمليات پيل کړي. جرمني څارګرۍ ادارې خپلو دوو ځريو (اوبر دورفر او ډاکټر فرد براندت) ته سپارښتنه وکړه چې اپيي فقير ته وسلې او پيسې ورسوي. له دې سره هم مهال بايد هغوی وزيرستان ته تللي وای او هلته يې په سپټمبر مياشت کې پر برېټانيايي هند د جرمني پوځيانو له بريد سره سم له اپيی فقير سره يو ځای د (پېرانګ) په نوم عمليات کړي وای، په کابل کې جرمنيان وزيرستان ته د تګ په حال کې وو او د بنو يوه افغان ډګروال ميرصاحب خان [د انګرېزانو جاسوس] يې همکاري کوله، انګرېزان او شورويان وزيرستان ته د جرمني جاسوسانو پر تګ خبر وو، ځکه په اوربلوونکو عملياتو کې داسې کسان هم شامل وو چې د جاسوسانو رول يې لوباوه، جرمنيانو اپيی فقير ته له برلين نه انګرېزي ټوپک، لاسي بمونه، د زغره والو ګاډو ضد وسلې او د الوتکو ضد توغندي غوښتي وو، خو دا چې جرمني جاسوسان او د هغوی وزيرستاني بدرګه وال د لوګر په پل علم کې [د صدراعظم شاه ولي خان امنتي ځوکونو لخوا په يو کمين کې] ونيول شول، اپيی فقير ته وسلې ونه رسېدې. له دوی نه څو تومانچې او کارتوس، درې سوه زره افغانۍ، څه باندې لس زره هندي روپۍ او د قبايلو سيمو نقشې ترلاسه شوې، په دې پېښه کې يو جرمنی ځری (اوبر دورفر) ووژل شو او وروسته په کابل کې امنيتي ځواکونو ګن وزير او مسيد ونيول.» (وزيرستان، وروستی تمځای. ۱۴-۱۵مخونه)

نېټه:۱۴۰۱/۱۱/۲۹ل. ل

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ